

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې

د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي

هفته نامه آبادي

ګڼـــه: ۴۳ | مسلسل نمبر: ۱۳۳ | چهارشنبه، شعبان المعظم ۱۶مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال





د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۱۲مه نېټــه په هرات ولایــت کې د ترکمنســـتان د لومړي وزیر مرســـتیال او بهرنیو چارو وزیر ښـــاغلي رشید مردوف سره وکتل. په دغه لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، تاپ، اوســـپنې پټلۍ، برېښنا پروژو او دغه راز د تاپي پروژه کې د سعودي عربستان د دلتا انټرنېشنل کمپنۍ د پانګونې په اړه خبرې وشـــوې. د تاپـــي ګازو نل‌لیکه د ســـیمې د ځلورو هېوادونو پـــه ځانګړې ډول افغانســـتان لپاره یوه ســـتره اقتصادي لاســـته راوړنه ده. افغانستان به د دې نل‌لیکې د حق‌العبور له لارې په کال کې له ۴۰۰ تر ۵۰۰ میلیونو ډالرو پورې عاید ترلاســـه کړي. دا راز په غیر مستقیم ډول به دا پروژه د اقتصاد په وده کې د خلکو د عوایدو په زیاتوالي، د بې‌کارۍ د کچې په راکمولو، صنعت، په هېواد کې د ګازو د بیـــې پـــه راټیټولو، په منځنۍ او ســـویلي اســـیا کې به د افغانستان پر اقتصادي او ستراتیژیک موقف او اهمیت ښه اغېز وکړي. له نیکه مرغه د افغانســـتان په خاوره کې یې عملي چارې د ۱۴۰۳ لمریز کال د وږي په میاشت کې پیل شوې. اوسمهال د ګازو دا نللیکه د افغانستان په خاوره کې ۱۵ کیلومتره غځېدلې، ۹۱کیلومتره د غځولو له پاره چمتو شـــوې او ۱۰۰ کیلومتره مســـیر یې سروې شـــوی دی. د مســـوولینو په وینا د هرات ولایت تر مرکز پورې به د تاپي پروژې د غځولو چارې د ۲۰۲۶ میلادي کال تر پایه بشپړې شي. له بل لوري تاپي پروژه د انرژۍ د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د ذیدخلو هېوادونو لپاره زیات ارزښت لري. دا هېوادونه انرژۍ ته زیاته اړتیا لري او د ترکمنستان طبیعي ګاز کولی شي د دوی د برېښنا تولید او صنعتي فعالیتونو لپاره یو باوري او نســـبتاً ارزانه سرچینه واوسي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیـــو چارو وزیـــر ترمنځ په لیدنه کې یـــوه موضوع د سعودي عربستان د دلتا انټرنیشنل کمپنۍ له لوري د تاپي پروژه کې د پانګونې د لیوالتیا خبره وه. دغه کمپنۍ غواړي په تاپي پروژه کې پانګونه وکړي او د افغانستان له لارې یې پاکستان او بیا هند ته ورسوي. په دې سره به منځنۍ اسیا هېوادونو ته د یوه اقتصادي دهلیز د پرانیســـتلو له پاره لاره هواره شي او افغانستان به یې ترانزیټ حق ترلاسه کړي. د دې چارو په ترسره کېدو به نه یوازې افغانستان په سیاسي لحاظ خپل موقف نور هم پیاوړی کړي، بلکې اقتصادي وده به یې هم ګړندۍ شي. په دغه ناسته کې بله مهمه موضوع د تورغونډۍ-هرات اوســـپنې پټلۍ پروژه وه. دا پروژه هم د افغانستان د ټرانسپورټي زېربناوو د پراختیا او اقتصادي ودې پـــه برخه کې زیـــات اهمیت لري. دا پروژه بـــه د هېواد د لوېدیځې برخې په سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییز اتصال کې مهم رول ولوبوي. د دغې ناســـتې نـــور موضوعات د انرژۍ پـــروژې وې. د دې پروژو په عملـــي کېدو سره به افغانستان د انرژۍ په برخه کې شته ستونزو ته پای ورکړي او پر مټ به یې خپل صنعت او دې ته ورته نورو سکټورونو ته پراختیا ورکړي. په لنډ ډول ویلای شو چې د تاپي، تاپ، اوسپنې پټلۍ او برېښنا په څېر د سترو پروژو په عملي کېدو سره به افغانستان د سیمه ییز اتصال ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیـــټ او اقتصادي ودې لپاره نـــوې دروازې پرانیزي او اقتصادي ثبات به رامنځته شي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او بهرنیو چارو له وزیر سره وکتل




۲ صفحه

## د ســـوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېسیون غونډه جوړه شوه



۲مه صفحه

## د افغانستان او بنګله‌دېش سوداګرۍ او پر اقتصادي وده یې اغېزې



۵مه صفحه

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو له وزير سره وکتل




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۲مه نېټه په هرات ولايت کې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف سره وکتل.

د دغه ليدنې پرمهال د افغانستان د کانونو او پټروليم وزير الحاج ملا هدايت الله بدري، د اوبو او انرژۍ وزير الحاج ملا محمد يونس اخوندزاده، د ترکمنستان د ترانسپورټ او ريل پټلۍ وزير، د دولت وزير او د ترکمن ګاز دولتي شرکت رئيس او يوشمېر افغان او ترکمن مسوولينو هم حضور درلود.

په دغه ليدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د تاپي، تاپ، د اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه خبرې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د تاپي پروژې پيل د افغانستان، ترکمنستان او سيمې هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا ته زمينه برابره کړې او په دې پروژه کې د سعودي عربستان دلتا انټرنېشنل کمپنۍ هم پانګونې ته لېوالتيا ښودلې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، دلتا انټرنېشنل کمپنۍ لېواله ده چې د تاپي پروژې د ګازو اخيستلو، د ترکمنستان د لوی ګازي بلاک د ظرفيت لوړولو، د هرات ولايت له ګذرې ولسوالۍ څخه د کندهار ولايت تر سپين بولک ولسوالۍ، له سپين بولدک بيا د هند تر پولې د ګازو د پايپ لاين جوړولو او غځولو، د پاکستان په ګوادر بندر کې د ګازو د ستر او عصري مرکز جوړولو په برخو کې پانګونه وکړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارنګه له ترکمنستان وغوښتل چې د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژې د جوړېدو په اړه افغانستان ته خپل درېځ روښانه کړي؛ ځکه د دې پروژې د تطبيق لپاره قزاقستان هم قوي لېوالتيا لري. هغه همداراز د افغانستان له لوري د تاپ پروژې د لار نقشې د نهايي کېدو لپاره بشپړ چمتووالی وښود او د دې ترڅنګ يې بالا مرغاب، خماب او قرقين ولسواليو ته د برېښنا انتقال او د سيمه ييز اتصال د نورو پروژو د پيل لپاره د افغانستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. هغه د دواړو هېوادونو ترمنځ په روانو پروژو کې افغانانو ته د کاري زمينې د برابرېدو په اړه هم ټينګار وکړ. ورپسې د ترکمنستان د لومړي وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير ښاغلي رشيد مردوف خبرې وکړې. هغه له اسلامي امارت څخه مننه وکړه چې د تاپي پروژې د تطبيق لپاره يې ښه زمينه برابره کړې او ويې ويل، چې د روان ميلادي کال تر پايه به د دې پروژې کارونه د هرات ولايت تر مرکز پورې راورسېږي. نوموړي په تاپي پروژه کې د بهرنيو شرکتونو د پانګونې له لېوالتيا هرکلی وکړ او زياته يې کړه، چې په دې اړه بايد له نږدې کار ورسره وشي.

همداراز هغه د ترکمنستان له لوري د تورغونډۍ – هرات ريل پټلۍ پروژه کې هم پانګونې ته چمتووالی وښود او ويې ويل چې عملاً يې په تورغونډۍ کې کارونه پيل کړي. نوموړي زياته کړه، هېواد يې چمتو دی چې له پنځو لارو افغانستان ته برېښنا انتقال او ظرفيت يې لوړ کړي.

پردې سربېره د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراخېدو، بانکي همکارۍ، کاري فرصتونو پر ايجاد او په مختلفو برخو کې د اقتصادي پروژو د مديريت په اړه د ګډ کار کولو په اړه هم خبرې وشوې.

د يادونې وړ ده چې د غونډې په پای کې د دواړو هېوادونو د تخنيکي ټيمونو له لوري د روانو پروژو د کاري پرمختګونو په اړه تفصيلي معلومات هم له ګډونوالو سره شريک شول

# د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون غونډه جوړه شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په اتمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه.

د غونډې په پيل کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه کمېسيون د رامنځته کېدو پر اصلي هدف او همدارنګه د تېرو درېيو کلونو پرمهال له کابل ښار څخه د سوالګرو راټولولو پروسې پر ارزښت خبرې وکړې. محترم ملا صاحب وويل، د دغه کمېسيون د غړو ادارو د هڅو په پايله کې له کابل ښار څخه تر ډېره سوالګر راټول شوي او له مستحقو سوالګرو سره د اسلامي امارت له لوري په مياشتني ډول نغدي او د خوراکي توکو مرستې شوې دي.

ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د مسوولينو له لوري د سوالګرو راټولولو او سوالګرۍ څخه د مخنيوي کمېسيون له کړنو څخه د نظارت راپور غونډې ته وړاندې شو. د راپور له مخې، په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو پروسې له پيل راهيسې ۷۴۹۶۸ سوالګر راټول شوي، چې له دقيقې ارزونې وروسته يې ۳۷۹۴۷ مستحق او ۳۷۰۲۱ يې حرفوي سوالګر پېژندل شوي. مستحق سوالګر افغاني سرې مياشتې ته ورپېژندل شوي، چې په مياشتني ډول ورته د بانکي حسابونو له لارې پيسې حواله کېږي. همدا ډول يوشمېر مستحق سوالګر بيا د درملنې په موخه د

عامې روغتیــا وزارت او ځینې بیــا د کارموندنې په موخه کابل ښاروالۍ ته ورپېژندل شوې.

پــه راپور کې د دغه کمېســیون د ترسره شــوو فعالیتونو ترڅنګ په یوشــمېر برخو کې موجودې ســتونزې هم له ګډونوالو سره شریکې شوې.

د راپــور له اورېدو وروســته د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه کمېســیون ټولو غړو وزارتونو او ادارو ته جدي سپارښــتنه وکړه، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري «د ســوالګرو راټولولو او ســوالګرۍ څخه د مخنیوي کمېســیون» منظور شوی طرزالعمل په ښه ډول عملي او تطبیق کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په لومړیو کې په کابل ښــار کې د سوالګرو شمېر تر ډېره کم شــو؛ خو په دې وروستیو کې یوځل بیا څه ناڅه زیات شوی چې جدي تعقیب او کار ته اړتیا لري.

همدارنګه پرېکړه وشوه چې د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې معینیت په مشرۍ به د دغه کمېسیون غونډه په میاشت کې یوځل ترسره کېږي او د خپلــو فعالیتونــو راپور بــه د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال ته وړاندې کوي.



## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتــي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شــوه. دې غونډه ته په کابل ولایت کې د کلولې پشــتې پر غونډۍ د پانګونې طرحــه د بحث لپاره وړاندې شوه. په غونډه کې وویل شول چې د کلولې پشتې کلا د تاریخي او کلتوري ارزښــت په ســاتلو، د دې کلا د حساسو تونلونو ارزښت ته په پاملرنې سره دې شنې ساحې، عامه او تفریحي ځایونه او ټولې اړینې اسانتیاوې هم په پام کې ونیول شي. همدارنګه دې غونډې ته د پنبې د کښت او پروســس په موخه د یو کرنیــز او صنعتي جامع کمپلکس جوړولــو طرحه هــم د بحث لپاره وړاندې شــوه. له بحث وروســته د اړوندو وزارتونو له اســتازو څخه جوړې شــوې کمېټې ته دنده وســپارل شــوه، څو د دې طرحې وړاندې کوونکې شرکت ته په مختلفو ولایتونو کې مناسبې ځمکې په نښــه کړي او خپل راپور به تر ټاکل شوې نېټه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## نشست وزارت احیا و انکشاف دهات برای بهبود کارها و تقویت هماهنگی

وزارت احیـا و انکشـاف دهات به‌هدف بهبـود کارها، تقویت هماهنگی و انکشاف متوازن، نشستی را با سازمان‌های داخلی و خارجی برگزار کرد. وزیر این وزارت در این برنامه با پافشـاری بر آسـیب‌دیدن روستاهای افغانسـتان در نتیجه‌ی جنگ‌ها و ویرانی‌ها، خواستار هم‌کاری همه‌جانبه برای رسیدگی به چالش های معیشتی مردم شـد. عبداللطیف منصور افزود که در حال حاضر، بسـیاری از مانع‌ها در برابر فعالیت سازمان‌ها برطرف و زمینه‌های گسـترده‌ای برای کار سازمان‌ها و موسسه‌ها فراهم شده است. وزیر احیا و انکشاف دهات، در این باره پافشاری کرد که :«مشکلات شما را به مقام رهبر و ریاست‌الوزرا، شورای وزیران و معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا می‌رسانیم تا راه حل را بـرای آن پیدا کنیـم.» آقای منصور در بخشـی دیگری از سـخنانش با اشـاره به کمک‌های جهانی می‌گوید که به نام افغانسـتان، پول‌های زیادی در بیرون از کشور جمع‌آوری شده است و حکومت با ایجا هماهنگی با سازمان‌ها می‌خواهد نشان دهد که این کمک‌ها چگونه و در کجا مصرف می‌شود. به‌گفته ی او، برخی از سازمانهای وابسته به امریکا اعلام کرده‌اند که در افغانستان به‌ویژه پس از روی کارآمدن امارت‌اسلامی ۱۶ میلیارد دالر هزینـه کرده‌اند، مگر بخش بزرگـی از این پول‌ها به هم کاران و قراردادی‌های خودشان اختصاص یافته است. در این برنامه، شماری از نماینده‌های سازمان‌های داخلی و خارجی با ابراز نگرانـی از کاهش کمک‌های جهانی به افغانسـتان، از مسـؤلان امارت‌اسلامی خواستند که در اجرای برنامه‌های‌شان هم‌کاری کرده و سـهولت‌های بیش‌تـری را برای فعالیت‌های آنان فراهـم کنند. بر پایه‌ی معلومات وزارت احیا و انکشـاف دهـات، نزدیک بـه ۷۰ درصد افغانسـتان را دهات و قریه‌ها تشکیل می‌دهد و باشـنده‌های این منطقه‌های با کم‌بود شدید امکانات روبه‌رو اند. این وزارت پافشاری می‌کند که برای بهبود معیشت مردم و بازسـازی این مناطق، هماهنگی میان امارت اسلامی و سازمان‌های داخلی و خارجی یک نیاز اساسی است.

## پایان سی‌ویکمین نمایش‌گاه گلفود در شهر دبی

ســی‌ویکمین نمایشــگاه «گلفود» در شــهر دبی، به پایان رسید. این نمایشگاه که همچون یکی از بزرگ‌ترین رویدادهای جهانی در بخش صنعت غذا و نوشــیدنی شمرده می‌شود، امسال نماینده‌های ۱۹۵ کشور جهان در آن حضور




داشــتند. در این نمایشــگاه، بیش از ۱۰ غرفه‌دار افغان نیز فرآورده های افغانســتان به شــمول میوه‌های خشک را به نمایش گذاشــتند. محمدربی زمانی، یکــی از غرفه داران افغــان در این باره گفت: « بســیار یک دســتاوردی بزرگی داشــتیم و از حکومت امارت اسلامی به ویژه وزارت صنعت و تجارت می‌خواهیم که زمینه‌های بیشــتری را برای ما فراهم کند.» در همیــن حال، رییس شــورای بازرگانان افغان در امــارات متحــده‌ی عربی، شرکــت تاجران افغــان در این نمایشــگاه را بااهمیت دانســته و می گوید که معرفی فرآوده های افغانســتان در چنین رویدادهایــی می‌تواند به افزایش صادرات و تقویت جایگاه تولیدات کشور در بازارهای جهانی کمک کند. این نمایشــگاه همه‌ساله در اواخر ماه جنوری به هدف معرفی، بازاریابی و گسترش تجارت جهانی صنعت غذا و نوشیدنی در شــهر دبِی امارات متحده‌ی عربی برگزار می شــود و بر پایه‌ی معلومات نماینده‌های کشورها، امسال ۱٫۵ میلیون تُن مواد غذایی در آن به نمایش گذاشته شد.

## قزاقستان آماده‌ی تمویل دهلیز ریلی از مسیر افغانستان

سفیر قزاقســتان در گفت‌وگو با یک رسانه‌ی پاکستانی گفته اســت که کشورش آماده اســت هزینه‌ی کامل ساخت دهلیز ریلی آســیای مرکزی-پاکستان را از مســیر افغانستان تامین کند. به‌گفتــه‌ی او، در این پروژه‌ی افغانســتان نه به‌عنوان مانع، بل به‌عنوان شریک ترانزیتی در نظر گرفته می‌شــود و گسترش تجارت و تقویت اتصال منطقه‌ای می‌تواند به ثبات این کشــور کمک کند. عبدالظهور مدبر، آگاه اقتصادی، در ایــن بــاره گفــت: «داشــتن روابط درســت اقتصــادی و استراتیژیک با کشورهای همسایه و منطقه در کل می‌تواند به ســود تمام کشورها تمام شود و بنابر چالش‌های سیاسی میان افغانستان و پاکســتان و تحریم‌های امریکا در بندر چابهار، می‌تواند گام ارزشمند تلقی شود که ما بتوانیم با کشورهای



آســیای مرکزی به ویژه قزاقستان داشــته باشیم.» بر پایه‌ی این طرح پیشــنهادی، محموله‌های ریلی از قزاقســتان وارد ترکمنســتان و پس از عبور از غرب افغانستان و از مسیر چمن وارد پاکســتان می‌شود، ســپس این شــبکه‌ریلی حمل این محموله‌ها به شبکه‌ی ریلی ملی این کشور وصل خواهند شد. به گزارش این رســانه، بخش افغانستان این پروژه نزدیک به ٦٨٧ کیلومتر طول دارد و پس از نهایی‌شدن توافق‌ها، ساخت آن نزدیک به ســه ســال زمان خواهد گرفــت. هزینه‌ی این بخش نیز به‌گونه‌ی کامل از سوی قزاقستان تمویل می‌شود. پیش‌تر تفاهم نامــه‌ی این پروژه میــان وزارت فوایدعامه و کشور قزاقستان به ارزش ۵۰۰ میلیون دالر امضاء شد. وزارت فوایدعامه، در باره‌ی اهمیت این پروژه می گوید: «این پروژه نه‌تنها به افغانســتان و قزاقســتان اهمیت زیاد دارد بل برای تمام کشورهای منطقه یک فرصت مهم است و آنان می‌توانند از این دهلیز اســتفاده‌ی بهتر کنند و کالاهای تجاری خود را با سرعــت بیش‌تر، هزینــه‌ی کمتر و زمــان کوتاه‌تر انتقال دهند.» به باور آگاهــان اقتصادی، هرچند پیوندهای تجاری افغانستان و پاکستان در حال، به‌دلیل چالش‌های سیاسی و امنیتی با محدودیت روبه‌روســت؛ مگر افغانســتان همواره به عنوان دهلیز اقتصادی و محور اتصال آسیای‌مرکزی و جنوب آســیا نقش کلیدی دارد و اجرای پروژه‌های بزرگ منطقه‌ای بدون حضور افغانستان ناممکن است.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی




# د افغانستان او بنګله‌دیش سوداګري او پر اقتصادي وده یې اغېزې

قيس احمد

## سریزه

د افغانستان د سوداګرۍ په اړه تر ډېره دا خبره کېده، چې ټوله تکیه یې یوازې پر یو هېواد ده او له هغه سره د اړیکو ښکته او پورته کېدو پرې مستقیم تاثیر درلود. خو له کله چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی، ټوله هڅه دا ده چې افغانستان له دې حالته ووځي او په یو وخت کې له ټولو ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره سوداګریزه راکړه ورکړه ولري. لله الحمد اسلامي امارت په دې بهرنۍ اقتصادي پالیسۍ کې بریالی شوی او افغانستان د تېر خلاف اوسمهال په یو وخت کې پر ګاونډیو هېوادونو سربېره، د سیمې او ان نړۍ له شاوخوا ۸۰ هېوادونو سره سوداګري کوي. په همدې موخه، په دې وروستیو کې له بنګله‌دیش سره هم د سوداګرۍ کچې پراخېدو لپاره له دواړو لورو هڅې زیاتې شوې دي. څه موده وړاندې د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مرستیال په مشرۍ پنځوس کسیز پلاوي چې افغان سوداګر یې هم برخه وو، بنګله‌دیش ته سفر وکړ. دغه پلاوي د بنګله‌دیش د سوداګرۍ ټولنې له مسوولینو سره د صادراتو او وارداتو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو، د ګډو پانګونو د موجودو فرصتونو د ارزولو او په مهمو سوداګریزو برخو کې د دواړو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ د مستقیمو اړیکو ټینګولو لپاره پراخ او ګټور مجلسونه درلودل. د دې ترڅنګ افغان پلاوي د دغه هېواد د درملو ټولنې او درملو تولیدوونکو شرکتونو له مسوولینو سره هم افغانستان ته په قانوني ډول د درملو انتقال، د درملو د کیفیت او د افغانستان د درملو په سکتور کې د بنګله‌دیشي شرکتونو په انفرادي او ګډې پانګونې بحثونه وکړل. له نېکه‌مرغه بنګله‌دیشي لوري په پورته ذکر شوو برخو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډو همکاریو ته پوره چمتووالی ښود او په دې برخو کې د لا نورو ګډو هڅو پر دوام ټینګار وشو. د افغانستان او بنګله دیش ترمنځ د ګډې سوداګرۍ لپاره کوم فرصتونه موجود دي؟ پر همدې موضوع دلته لنډې خبرې کوو.

## د بنګله‌دیش د درملو سکتور

بنګله‌دیش د درملو پراخ صنعت لري، چې د خپلې کورنۍ اړتیا پر پوره کولو سربېره یې یوشمېر نورو هېوادونو ته هم صادروي. افغانستان چې اوسمهال د خپلې اړتیا وړ ډېر درمل له هند څخه واردوي، اړتیا لري چې په دې برخه کې له نورو هېوادونو هم واردات پیل کړي. د دې لپاره بنګله دیش ښه انتخاب دی چې د افغان پلاوي په وروستي سفر کې یې د درملو له بنګله‌دیشي تولیدي شرکتونو سره د کیفیت، قیمت او په افغانستان کې د درملو د تولید په برخه کې د پانګونې په اړه خبرې شوې دي او هغوی د همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

## د درملو د تولید لپاره د افغانستان خام مواد

په ورته وخت کې بیا افغانستان د درملو د تولید لپاره پراخ او ښه کیفیت لرونکي خام مواد لري. افغانستان کولای شي د درملو خام مواد بنګله‌دیش ته صادر کړي، چې دا چاره د دواړو هېوادونو لپاره لوی اقتصادي فرصت برابروي. له دې سره به په افغانستان کې د خامو موادو د تولید کچه هم زیاته شي، چې له یو لوري به خلکو ته کاري فرصتونه برابر کړي او له بل لوري به د صادراتو حجم ورسره لوړ شي. افغانستان چې له دې وړاندې هم د طبي بوټو په برخه کې ښه نوم لري، په دې سره به د دغو بوټو کښت وده وکړي، خلک به وهڅېږي چې دې برخې ته توجه وکړي، چې دا خپله یو لوی اقتصادي فعالیت رامنځته کوي.

## د بنګله‌دیش د کالیو سکتور

دغه هېواد پر درملو سربېره د کالیو او جامو د تولید په برخه کې هم ښه پرمختګ کړی دی، چې تولید شوې جامې یې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې ښه بازار لري. افغانستان کولای شي له دې هېواد څخه د خپلې اړتیا وړ توکر، بېلابېلې جامې او کالي وپېري. د دې ترڅنګ افغانان کولای شي د جامو لپاره د خامو موادو تهیه کولو، د جامو رنګولو، پروسس، ډیزاین، د جامو جوړولو فابریکو جوړول او مدیریت، د کیفیت په پام کې نیول او د دغه سکتور یوشمېر نور مهم تخنیکونه زده کړي. دا چاره به افغانستان په راتلونکي کې د خودکفایۍ په لور روان کړي او دا چاره به په کور دننه د کاري فرصتونو په ایجاد او د کورنۍ اړتیا په پوره کولو کې مهم رول ولري.

نن په نړۍ کې د صنعتي پرمختګ لپاره یو اساسي رکن د تخنیکي او مسلکي قوې شتون دی، چې افغانستان له دې ستړې نیمګړتیا سره مخ دی. خو اسلامي امارت هڅه کوي چې په تدریج سره په ټولو برخو کې خپلو افغانانو ته د مسلکي او تخنیکي روزنې زمینه برابره کړي.

د داخلي مسلکي او تخنیکي بشري قوې تر ټولو لویه ښېګڼه دا ده چې راتلونکو نسلونو ته د لا نور پرمختګ زمینه برابروي او د دې ترڅنګ په ارزانه بیه کار او مزدوري کوي. موږ د تېر شل کلن اشغال پرمهال ولیدل چې د یوشمېر تخنیکي برخو لپاره بهرني کارکوونکي راوستل کېدل چې هر یو ته یې په لسګونو زره ډالري معاشونه ورکول کېدل. په داسې حال کې چې د هغوی په معاش لسګونو افغانانو ته د



کار زمينه برابربړه، خو د کابل تېرې ادارې دا کار نه کاوه. له بنګله‌ديش سره د ټوکر او جامو په برخه کې د ګډو همکاريو په پيل سره به افغانانو ته دا زرين فرصت برابر شي.

## د افغانستان وچې او تازه ميوې

د افغانستان په صادراتي توکو کې تر ټولو زياته برخه د وچو او تازه ميوو ده. يو دليل دا دی چې دلته صنعت لا هغسې وده نــه ده کړې څومره چې د دې هېواد اړتيا ده. له همدې امله په لرې پرتو او کليوالي سيمو کې ډېرى خلک په کرنه بوخت دي، چې يوه مهمه برخه يې باغداري ده.

د افغانســتان د تــازه ميوو لــه جملې انار، انګــور، منې، هندوانې، خټکې، ګيلاس، زردالو، شفتالو او نور دي چې د کيفيت له امله نړيوال شــهرت لري. اسلامي امارت هڅه کوي چې تازه او وچو ميوو ته نړيوال بازارونه پيدا کړي، څو له يو لورې د دې ميوو د خرابېدو مخنيوى شــوى وي او له بل لورې بزګر ته په ښه بيه پلورل شوې وي.

له بنګله‌ديش سره د ســوداګريزو اړيکو پراخېدو په صورت کې به افغانستان خپلې ډېرې وچې او تازه ميوې دغه هېواد ته صادرې کړي. د افغانســتان ميوې چې نړيوال شــهرت لري په بنګله‌ديش کې به هم زيات پېرودونکي پيدا کړي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۵,۱۰؋ | ۶۵,۱۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۴؋ | ۲۲۴؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۴۲؋ | ۰,۴۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۰۵؋ | ۷۷,۱۱؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۵؋ | ۰,۸۵؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۱۹؋ | ۷۲۰؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۸۹,۳۱؋ | ۸۹,۳۸؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷,۳۶؋ | ۱۷,۳۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۷۳؋ | ۱۷,۷۴؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۳۸؋ | ۹,۳۹؋ |

